**TAMSAAL**
ISSN Print: 3007-5939
ISSN Online: 3007-5947
Volume 4, Number 9, 2026, Pages 363 – 370
Journal Home Page
https://tamsaal.pk/index.php/tamsaal/index

# Pashtoon Society and Gender Discourse: A Critical Study

## پښتني ټولنه او صنفي بيانيه

## (يوه تنقيدي څېړنه)

**Rehmat Bibi Achakzai[1], Dr. Naseebullah Seemab[2]**

*[1]Ph.D. Scholar Pashto Department University of Balochistan Quetta, Email: rehmatbibi9108@gmail.com*
*[2]Professor, Pashto Department University of Balochistan Quetta, Email: nseemab902@gmail.com*

**ARTICLE INFO**

***Article History:***

| | | |
|---|---|---|
| *Received:* | *August* | *07, 2026* |
| *Revised:* | *September* | *04, 2026* |
| *Accepted:* | *September* | *13, 2026* |
| *Available Online:* | *September* | *22, 2026* |

***Keywords:***

*Pashtoon society, Gender discourse, Women, Pashtoon culture, Patriarchy, Folklore, Human rights*

***Corresponding Author:***
*Rehmat Bibi Achakzai*
***Email:***
*rehmatbibi9108@gmail.com*

**ABSTRACT**

*Pashtoon society has its own structure and its own demands, as it is a tribal society—and tribal societies have their own specific requirements. Viewed in this context, Pashtoon society holds certain hardline attitudes regarding women—attitudes that, taken as a whole, reflect the rigors of a tribal society. In this study, we have also paid close attention to the fundamental issue of the status and position of women in Pashtoon society, and the challenges Pashtoon women faced in the past. This study addresses the question of where women stand in today's modern era, specifically examining whether Pashtoon society has historically exploited women—within the context of gender dynamics—and assessing their current situation.*

***DOI:*** *https://doi.org/10.59075/tamsaal.v4i9.209*

OPEN ACCESS

***© 2026 The Authors, Published by ULLR. This is an Open Access Article under the Creative Common Attribution (CC-BY 4.0)***

د پښتني ټولني خپل جوړښت دی او خپلي غوښتني دي.ځکه چي پښتني ټولنه يوه قبايلي ټولنه ده.د قبايلي ټولني خپلي غوښتني وي.په هم دي تناظر کي که موږ وګورو نو پښتني ټولنه د ښځو په حواله ځيني سخت دريزونه لري چي هغه بحثيت مجموعي د يوې قبايلي ټولني سختياني دي.موږ په دي څېړنه کي هم دي بنيادي نکتې ته زيات پام کړی دی چي د په پښتني ټولنه کي د ښځي حالت او حثيت څنګه دی.په تېر وخت کي پښتني ښځه له کومو ستونزو سره مخامخ وه د نن په دي جديد دور ښځه چيري ولاړه ده.دا څېړنه هم دا سوال جوابوي.چي د صنفي بياني په لړ کي

## پښتني ټولني له پخوا د ښځو استحصال کړی دی که نه او اوس پر څه حال ده.

د پښتني ټولني خپل جوړښت دی او خپلي غوښتني دي.ځکه چي پښتني ټولنه یوه قبایلي ټولنه ده.د قبایلي ټولني خپلي غوښتني وي د صنفي بیانې په لړ کي پښتني ټولني له پخوا د ښځو استحصال کړی دی حتی د ښځې سره د ناوړه صنفي چلن زموږ په پښتو متلونو کي لا هم موجود دی لکه " لور یا د بدی ده یا د نیستی" تاسو فکر وکړئ څومره د افسوس خبره ده چي مړی دي لالا یا بابا وکي په بدي کي دي خور یا لور ورکړل شي یا په ټولنیزه حواله د پښتني ګډو کورونو و داخلي ټولنیز کړه وړه ته که موږ وګورو نو دلته بیا د ښځي سره هم هغه ناوړه صنفي چلن راروان وو کوم چي د یوې پښتنې د بنیادي انساني حقوقو منافي وو د پورته راوړي متل په دوهم نیمي چي " لور یا د بدی ده یا د نیستی" اوس نو بابا، کاکا او لالا هر کال اولادونه زیږوي د اولادو د ساتني او روزني په لړ کي کورنی د نیستی له ناورین سره مخ وي بیا د نیستی د بلا د خولې څخه د دې کورنی د را ایستلو له پاره یوه لور ، خور یا وریره په درانه ولور د شریعت پر خلاف و غیر کف یعني نابرابر کس ته ورکړل شي یا یي پر سن نه یي برابر یا عیبي وي یا زوړ وي یا هم پر درو بنو واده شي ترڅو یا خو کورنی د ولور په دې پیسو د ژمي لاندی وکي یا د دوبي لنګه وکړي او یاهم بابا د مکې په لور مخ پر حج د لور د ولور په پیسو روان شي

"د پښتنو په زاړه کهول کښې دا قبیح د دستور تر ډېره پورې وو چې په ولور یا په بدي او یا په سرې کښې به ئې ځوانه پېغله ښځه، و عمر خوړلي سپین ږیری ته ورکړه ظاهره ده چې په دې حقله به د عمر د تفاوت په لحاظ د پېغلې ژوند او تنکی ځواني د دردېدلو جذباتو آئینه وه د هغې ژوند به د هغې د سر خوړلو ارمانونو هدیره وو. او د هغې د زندګی هره لمحه به د ګور د مړي په شان یوه نه ختمېدونکې سلسله وه په دې حقله د اتڼ په نارو کښې هم دغه ښځینه احساسات په دومره طنزیه انداز خوندي شوي دي، چې هر منظر ئې جلا کیفیت لري.

د پېغلې په غوځې کښې زړه سرغسې باد د ښور وینه

له کښې بورې رانغاري اې ناندانه زنې خوب د څنګوینه

چې وخت د نیمې شپې دا زاره مرګیان پېغلې انجونه غواړي سي

دوئې به یخ وګېوي پوستین به غواړي *(سیدخیرمحمدعارف ۲۰۰۵م مخ ۱۰۲*

که څه هم اوس په پښتني ټولنه کي قبیح رواجونه مخ پر کمیدو دي لاکن د صنفي بیانیې په لړ کي اوس هم زموږ د فوکلوریک ادبیاتو په حافظه کي دا ډول شیان خوندي دي چي په هغه موږ د انساني حقوقو په لړ کي شرمیږو

"دغه دستور اوس هم ځای پر ځای شته خود پخوا په نسبت ډېر کم دی، پخوا خو به داسې لا هم اوشو چې د بدي په بدل کښې

> به ئې د قاتل د کورنۍ د حمل لروونکې ښځې، ښځینه اولاد هم ورکولو چې که انجلۍ وه نو د مقتول و کورنۍ ته به تر زوکړې له مخه په بدي کښې ورکړل شوه، دغه قبیح رواج ته ئې (زرغونه تې) ویلو. ( *سید خیرمحمد عارف ۲۰۰۵م مخ ۱۰۲*

هم د هغه غوښتنو په تناظر کې د ښځې ژوند او حثیت وي.په پښتنه ټولنه کې ژوند ډېر سخت دی بحثیت مجموعي ژوند له ډېرو ستونزو سره مخ دی.که نر دی که ښځه که لوی دی که کوشنی له ژوند سره په زور ازمایي لګیا دي.او بیا د هر وخت جګړو نور هم ژوند له ستونزو سره مخامخ کړی دی.د نړۍ ټولي جګړې هم دلته تر سره کېږي.په دې حالاتو کې چې عام انسان څنګه ژوند کوي هغه په خپله یو سوال دی خو ښځه چې څنګه ژوند کوي د هغه تصور کول هم ګران دی.

> " له بده مرغه زموږ په ټولنه کې ښځمنې له زیاتو ستونزو سره لاس او ګریوان دي په ادبیاتو کې هم د ښځو ونډه د دغه ستونزو یوه مهمه برخه ده د ښځمنو په باب زموږ د ښځو دریځ د بشریت د تاریخ د پیلامې له پېړیو هم په تیاره کې دی که افغانان په دې ټکي خفه کېږي او که خوشحالېږي باید ځان له دغه حقیقت سره مخامخ کړي د هیڅ ټولنې سره د پرتلې وړ نه دی آن په ډېرو ورستو پاته افریقائي اولسونو کې هم ښځمنې له داسې وضعیت سره لاس او ګریوان نه دي لکه زموږ په ټولنه کې چې دي راځئ د تاریخ دغه تریخ حقیقت په سړه سینه په دقت واورو او ویې منو که یې وا نه ورو او ویې نه منو موږ د دې ټولنې د ښځمنو په وضعیت کې د بدلون طمعه نه شو کولای"( *محمد زرین انځور* ۲۰۲۴*مخ ۳)*

دلته یو سوال دا پیدا کېږي چې د صنفي بیانیه د ټولو نظریاتو مننونکي پر دا خبره متفق دي چې د ښځو سره په ټوله نړۍ کې ټولنیز، معاشي، اخلاقي او غرض پر هره کچه امتیازي سلوک روان دی د نر او ښځې فرق فطري دی خو په ټولنه کې د دوی کردار فطرت نه بلکه رواج ټاکلی دی او دا بدلیدلای شي او دغه ډول ټولنې چې له ښځو کوم حقوق اخیستي دي هغه بیرته ورکول کیدلای شي

په پښتني ټولنه کې چې چیري ښځه په حفاظت ده قدر لري د مور په حیث د خور په حیث د مېرمنې په حیث هلته یې ځینې بنیادي حقوق له لاس ورکړي دي. لکه په جایداد کې برخه په تعلیم کې ونډه او په خپله خوښه واده کول دا او داسي نور حقوق چې نارینو په خپل لاس کې اخستي دي.

په پښتني ټولنه کې ښځمنو سره د پښتنو د کړونو په باب د سهیلي پښتونخوا نامتو شاعر او څېړونکي ابوالخیر ځلاند په خپل ارزښناک اثر " انګۍ د نیمي نړۍ فریاد" کې و پښتنو ته تر خپله وسه د حقیقي هنداري د ورښکاره کولو ډېر په زړه پوري کوښښ کړی دی دی لیکي چې

> " په دې کتاب کې داسي تلخ حقائق بیان شوي دي چې په ماضي کې اوسیدونکي رجعت پسندان ، د مېړاني او غیرت په مصنوعي خول کې بند، ذهنونه، د درواغو په روایت ژوندي او بزدله خلګ یې و اورېدو ته تیار نه دي... زه وایم دا رشتیا ویل ضروري دي ځکه چې یوشتمه پیړۍ زیاته په شروع کیدو ده

> بـایـد نـور نـو ځـانـونـه پـه درواغـو و نـه غـولـوو یـا ځـان د مـلائـکـو د قـبـیـلـې سـره اړه لـرونـکـي قـام ثـابـت نـه کـړو بـلـکـه بـایـد و حق تـه تـن کـښېږدو پـه خـپـلـو کـورو کـي وګـورو پـه خـپـل ګـریـوانـو کـي وګـورو چي مـوږ څـه یـو؟ څـه کـوو؟ او نـړیـوال مـوږ تـه پـه کـومـه نـګـاه ګـوري؟ ښـایـي چي و لـور خـور او ښځـي تـه پـه احـتـرام ورکـولـو سـره د مـور او پـلار پـه مـیـراث کـي حق هـم ورکـړو د اعـلـي ظـرفـۍ، وسـیـع الـظـرفـۍ او دریـادلـۍ عـمـلا ثـبـوت ورکـړو زبـانـي نـه" *(ابـوالـخـیـر ځـلانـد ۱۹۹۴ ص ۲۹، ۳۰)*

زمـوږ پـه ټـولـنـه کـي د ښځـه د کـوم ژونـد سـره مـخـانـخ ده نـاریـنـه هـم کـم و زیـات لـه داسـي ژونـد سـره مـخـامـخ دی دښځـو د حـقـوقـو پـه اړه بـانـدي هغـه کـار نـه تـر سـتـرګـو کـېـږي کـوم کـار چي پـه نـړیـوالـه سـطح بـانـدي کـېـږي زمـوږ ټـولـنـه بـحـثـیـت مـجـمـوعـي شـاتـه پـاتـه ده.ښځـه خـو پـرېـږده نـاریـنـه د ډیـرو حـقـوقـو څـخـه مـحـرومـه دي.د دې وجـوهـات مـا پـه سـر کـي ویـلـي و چي جګـړه ده تـیـره نـیـمـه پـېـړۍ د پـښـتـون پـر خـاوره جـنـګ روان دی دهـشـت ګـردي ده د مـهـاجـرت ژونـد دی.دې حـالاتـو پـه ټـولـنـه کـي د عـادي ژونـد بـڼـه بـدلـه کـړې ده.نـه امـن شـتـه نـه روزګـار شـتـه او نـه تـعـلـیـم شـتـه.پـه کـومـه ټـولـنـه کـي چي نـاریـنـه د خـپـل حق څـخـه مـحـرومـه وي هـلـتـه بـه د ښځـي څـه حـال وي د دې انـدازه هـر څـوک ښـه کـولای شي.

> څـوک او څـوک وایـي چي ښځـه بـې وفـاده او وفـانـه لـري، مـګـر تـر لـږ دقـت وروسـتـه څـرګـنـدېـږي چي ښځـه پـه وفـا کـې تـر نـر کـمـه نـه ده، بـلـکې ډېـر وخـتـونـه ښځـه پـه دې ښـکـلـي صـفـت کـې تـر نـر اوړي. مـثـلاً: ډېـر لـږ نـاریـنـه دي چي د خـپـلـې ښځـې تـر مـرګ وروسـتـه بـل واده نـه کـړي او بـې ښځـې واوسـي، مـګـر خـورا ډېـرې ښځـې لـیـدل کـېـږي او شـتـه (چې لـږ او ډېـره یـې چـاره وسـي او څـوک یـې پـرېـږدې) د مـېـړه تـر مـرګ وروسـتـه بـل مـېـړه نـه کـوي او پـه ځـوانـه ځـوانـي د مـړه مـېـړه پـه نـامـه کـښېـنـي، تـور سـر سـپـیـنـوي او ښـکـلـی زلـمـیـتـوب خـاورې کـوي، نـو آیـا دا د بـې وفـایـی څـخـه کـېـږي او کـه د وفـا داری څـخـه؟ ښځـه تـل دا غـواړي چي د مـېـړه ګـټـه وسـاتـي او یـوه یـې دوی سـي. هـو! زړه یـې غـواړي چې ښـه کـالـي واغـونـدي او ښـه خـواړه وخـوري چې دا د نـر آرزو هـم ده، مـګـر نـه غـواړي چې د زلـمـیـانـو پـه څېـر قـمـار وکـړي او بـې ځـایـه پـیـسې خـرڅې کـړي. (عـبـدالـروف بـیـنـوا ۲۰۰۹ مخ۸،۷)

د دې وجـوهـاتـو څـرک پـه مـجـمـوعـي حـوالـه زمـوږ پـه شـاعـري کـي کـه څـه هـم شـتـون لـري خـو پـه هغـه پـیـمـانـه شـتـون نـه لـري څـومـره چي د صـنـفـي بـیـانـیـه د تـحـریـک سـره تـړلـي هـیـوادونـه یـې لـري هـم پـه دې پـس مـنـظـر کـي بـه زه د خـپـلـي څېـړنـي بـنـیـادونـه راپـورتـه کـوم او دا لامـلـونـه بـه پـه ګـوتـه کـوم چي زمـوږ د ټـولـنـي، زمـوږ د شـاعـرۍ او صـنـفـي بـیـانـیـه کـوم تـعـلـق دی؟ تـعـلـق یـې شـتـه هـم کـه نـه ؟ کـه نـشـتـه وجـوهـات یـې څـه دي؟ کـه شـتـه نـو پـه کـوم انـداز وجـود لـري؟

لـه نـن څـخـه څـلـور سـوه کـالـه لـه مـخـه د پـښـتـنـو سـتـر نـیـکـه، د تـوري او قـلـم څښـتـن لـوی خـوشـحـال خـان خـټـک پـښـتـنـو تـه د ښځـو د حـقـوقـو د ټـاکـلـو لـه پـاره لـیـکـه کـش کـړې وه او پـه واز کـومـي یـې ورتـه ویـلـي وو چي

انبیا که اولیا دي    له عورتو نه پیدا دي

(د خوشحال خان ختک کلیات ۱۳۶۵ مخ۳۱۲)

او بیا که په راورستو کي وګورو نو وینو چي که په دوهم افغان انګلیس جنګ کي د میوند د غزا په میدان کي مېړنی اتله ملاله د خپلو ورونو غازیانو تر څنګ نه وای و لاړه نو د دې جنګ نتیجه به بل ډول وای خو کله چي ملالي ولیده چي د پښتنو لښکر له ماتي سره مخ دي نو خپلي هغي تاریخي تودې نارې یې پر خپلو ورونو وکړې چي تر ابده به چي پښتني افغاني تاریخ وي د ملالي دا کوکي به یادي وي او دغه نارې نن هم سینه په سینه تر موږه رارسیدلي دي

که په میوند کي شهید نه شوې

ګرانه لالیه بې ننګی له دي ساتینه

جانان مي سر پر وطن کښېښو

په تار د زلفو به کفن ورله ګنډمه

زموږ پښتني تاریخ له دا ډول ننګیالیو پتمنو او غښلتو پښتنو میرمنو ډک دی چي کارنامي یې زموږ د تاریخ پسول دی هغه که نازو انا ده او که زرغونه انا پښتنو میرمنو یوازې د کور په امورو کي د نارینو ملا نه ده تړلې بلکه د مملکت په چارو کي یې هم درانه خدمتونه تر سره کړي دي چي په هیڅ ډول سترګي نه شي پر پوټېدای او دا لړی لا روانه ده دوام لري او زموږ د عصر ملالي چي د جهالتونو په ضد په خپله تنکي سن کي لا د علم او آګهی کومي ډیوې بلول غوښتې او خپل سر یې پر لاس ایښی د پښتنو د علمي سباون په عملي مبارزه کي د نارینو سره اوږه په اوږه په دا ډول را روانه وه چي د میړاني ستاینې ته یې نړیوال سر تسلیم خم شوه او د نوبل نړیواله جائزه یې ورکړه

د پښتنو په تهذیبي ټولنیز ژوند کي د ښځي رول بیخي مهم دی ډاکټر لعل باچا خیالي د پښتنو په کورني جوړښت کي د ښځي رول دا ډول یادوي

> پښتانه تهذیب کښي زنانه یعنی ښځو ته په درنه سترګه کتلي شي. د دوې په تهذیب کښې د پېغلو په سر لوپټه ښکلي ښکاري. د یو کور په ماحول کښې هغه ټولي رشتې او د هغوی یو شان یا جُدا خویونه د هغوی د تهذیب نمونې وی. اوس د یو کور ماحول څنګه دی؟ هلته مور او لور څنګه ژوند تېروی؟ د ښځې د خاوند، سُخر، خواښې، د لېورانو او اېنېندو، خویندو او ورونو ترمنځ اړیکه څنګه ده؟ دغه شان په کور کښي د دوو بنو یو بل سره تعلقات دي؟ په دغه کورونو کي د کونډې یا طلاقي ښځي متعلق څه مخي ته راغلي دي دا ټولي خبري زموږ په روزمره ژوند کي کله د نثر ، کله د سندرو، کله د محاورو او کله د متلونو په شکل کي مخي ته اوړي را اوړي "(ډاکټر لعل باچا خیالي ۲۰۱۲م مخ ۵۰)

د پښتو يو ليکوال او شنونکي ښاغلي عبدالحکيم نوزري صاحب خپل يو اثر "پښتو او پښتونواله د پښتنو د نجات لار" پر ۶۰۵ مخونو ليکلی دی او دی په دې عقيده دی چي که چيري پښتانه پر پښتونوالي عمل وکړي نو پښتناه به له روانو شخړو د نجات لاره پيدا کړي څلورم فصل يي چي پښتو او پښتونواله عنوان لري کي يي د ډيرو پيچلو مسئلو حل راخيستی دی او دا ډول يي د دغه سرليک پر ۱۵۴ مخونو په يو سل دوه ضمني سرليکونو د حل لاري راوړي دي په دې دومره اوږده بحث کي يي يو سرليک هم د ښځو په باب نه دی ځانګړی کړی چي ډېر د تعجب خبره ده فقط په دې اوږده بحث کي يي دوه ځايه ښځو يادونه راوړې ده سرليک ۲۴: د پاکي او عفت په اړه:

" د پښتو او پښتونولۍ د قانون پر اساس هر رښتنی پښتون او پښتنه بايد په خپل ژوند کې پاک او سپېڅلی وي.

که څه هم د پښتنو په اکثرو منطقو کې ستر او مخ پټی نشته ځينې وخت لېرې او نږدې مېلمانه په يوه کور او کېږدۍ کې سره کښېني. کله کله داسې هم کېږي چې د کور سړي په کور کې نه وي او مېلمانه يا مسافر کور ته راشي، خو پښتنې مېرمنې په کور کې د سړيو د نه موجوديت په صورت کې هم مېلمه د کور څخه نه رخصتوي او د مېلمنو پوره عزت او حرمت کوي.

خو دا ټولې اړيکې نهايت پاکې او سپېڅلې وي، که چېرې په کوربه يا مېلمه کې د ناپاکۍ حرکت وليدل شي نو بيا د پښتو او پښتونولۍ قانون پر متخلفينو تطبيق کېږي او دواړه وژل کېږي.

د پښتو او پښتونولۍ د قانون په پيروۍ هر پښتون کس د پاکۍ او عفت په چارو کې نهايت محتاط دی او د دې سبب ده پښتنو ټولنه د نړۍ د پاکترينو ټولنو د جملې څخه يوه ډېره زياته پاکه او با عفته ټولنه ده" *(عبدالحکيم نورزی ۲۰۱۳ مخ۲۴۴)*

د دغه باب د۴۸ سرليک "حقوقي او جنايي منازعاتو په اړه" کي بيا بل ضمني سرليک " د مړي د خون بها په اړه " راوړي او دلته بيا د ښځو يادونه راوړي

"په اکثرو مواردو کې د پښتنو جرګې چې روغه جوړه کوي نو کوشش کوي چې د نور قتل او قتال مخه ونيسي، نو د دښمنو خواوو ترمنځ دوستي هم سره کوي چې دا دوستي کله کاميابه نتيجه ورکړي، او کله بيا د دښمنو خواوو ترمنځ د لا نور قتل او قتال مخه خو ونيسي، مګر په بدو کې د ورکړل شوو اينجونو ژوند دومره تريخ وي چې تر مرګ زر ځله بد وي.

د احمد زو د قوم د جرګې مطابق که يو "ګوتلکه" يعني پېغله اينجلي د مړي په پور کې ورکړي نو د مړي د خون بها نيمه برخه او د "روڼي" يعنی کوچنۍ اينجلي په

ورکړه د مړي درېيمه برخه خون بها مجرا کېږي او پاتې برخه به يې نقدي ورکوي.

د پښتو او پښتونولی د قانون مطابق که يو سړي يو بل کس که نروی او که ښځه مړ کړي، او تر مرگ وروسته دا مړ کس بې حجابه کړي، نو بايد دوه برابره خون بها ورکړي، يعني د دوو مړو خون بها بايد ورکړي."
(عبدالحکيم نورزی ۲۰۱۳ مخ ۲۸۱، ۲۸۲)

اوس د پورته راوړل شوي حوالو پرته په دې ټول بحث کې د ښځو چې په نفوس شميرنه کې تر سم نيمی زياته آبادي ده او د ټولنيزو ستونو د حل په لار کې د يغو په باب په يوسل دوه عنوانه کې لاهم يو عنوان نه ځانگړی کول باندي زه خو کم از کم نه پوهيږم يا که پوهيږم نو دومره چي ښاغلی ليکوال د ستونزو د نجات په لار کي پر سم نيمی آبادي پر وجود او شتون ولي سترگي پوټوي او وبله خوا ته د هم دغه صنفي بيانيې د حقيقت په لور د پښتو يو بل ليکوال ښاغلی ډاکټر لعل باچا خيالي صاحب په خپل اثر " د پښتو متلونو تهذيبي او لساني مطالعه " د ښځي او خاوند يووالی د ټولني د کامرانی علامت بولي

"سړی او ښځه يا داسي به ووايو چي ښځه او خاوند لکه چي د سائيکل دوه پای دی. په دغه پايو کښي که يو هم خرابه شي نو مجال شته چي بله پايه مخ په وړاندي لاړه شی دغه شان د ښځي او خاوندخپلو کښي اتفاق ، تړون ، مينه او محبت لازم ملزوم دی. د پښتنو تهذيب کښي ښځه د کور عزت دے ، د تن جامه ده ، د کور رڼا ده. پښتانه په ښځه لاس وچتول هم خپله بې غيرتی گڼی".

(ډاکټر لعل باچا خيالي ۲۰۱۲م مخ ۴۹)

د پښتو يو بل ليکوال او څېړونکی ښاغلی خان خادم کوچي په خپل اثر کوچياني پانگه کي دا حقيقتونه په گوت کوي چي د ټولنيز ژوندانه د صنفي بيانيې لړ کي ښځه څومره فعال رول لري او د دې خبري د ثابتولو له پاره زموږ پام رااړوي چي په ورځني ژوندانه کي د نارينه اوړه په اوږه ښځي برخه لري

" که وري ، ميږي، وزې مړونه سکولي نو وړی يي ښځي ټولوي د هغويو خدمت کوي پرې يي منځي او بيا يي ور پسي رنگ کوي يي لنډه دا چي وړی د سړيو شوې خو شړی کوي يي ښځي پسه که سړي حلالوي نور ټول خدمت يي ښځي کوي له هغه څخه نگولي جوړوي او بيا يي وريخوي. له پوستوکو څخه يي ښځي ژی جوړوي او په هغه کي اوبه ورله راوړي لندبل ورته جوړوي . ميږي که سړي پيايي د شودو خدمت تر سړونجي پوري د ښځو په غاړه وي که رخت له پازاره سړي راوړي نو گينده کول او پاده کول يي ښځي کوي " ( خان خادم کوچی ، ۲۰۰۰ مخ ۶۸)

تاسو وگورئ چي په کليواله پښتني ټولنه کي په ورځنی چارو کي ښځه څه ډول اوږه په اوږه د ژوند د چارو په پرمختگ کي د نارينه

سره ګډنډی برخه اخلي کومي چاري چي نارينه يي پيل کړي خو ښځينه يي پای ته رسوي ګويا د ژوند په مرمختګ کي دا دواړي پيلې مخ په وړاندي يون کوي کوم کار چي نارينه پيل کړي او ځيني پاته شي هغه کار ښځي په خپل توان او بشپړي واک و زغم پای ته رسوي چي دا د ژوند په پرمختګ کي بنيادي رول دی

حوالي او ماخذونه


۱-خير ﷴ عارف سيد د اتڼ ناري، پښتو اکيډمی کوټه ۲۰۰۵

۲-ﷴ زرين انځور، صنفي بيانيه او ادبيات، هاشمي خپرندويه ټولنه کابل ۲۰۲۰

۳-ابوالخير ځلاند ، انګی د نيمي نړی فرياد ، احمد پرنټننګ پريس کراچي اپريل ۱۹۹۴

۴-عبدالروف بينوا پښتني ميرمني د اطلاعاتو او کلتور رياست کندهار ۱۳۸۷، ۲۰۰۹

۵-خوشحال خان خټک کليات خوشحال خان ختک پښتو ټولنه کابل ۱۳۵۶

۶-لعل باچا خيالي ، د پښتنو متلونو تهذيبي او لساني مطالعه، چاپ دي پرنټ مين پرنټرز پېښور ۲۰۱۲

۷-عبدالحکيم حکيم زوی، استبداد چاپ لومړی ځل ؟ ۱۳۸۸ل

۸-خان خادم کوچی ، کوچياني پانګه، چاپ دانش کتابتون پېښور ۲۰۰۰